The Asia Foundation

# مطبوعاتی اعلامیه

د سمدستی خپریدو لپاره

**Media Contacts:**
In Kabul: Mr. Tariq Osman
tosman@asiafound.org
In San Francisco: Amy Ovalle
aovalle@asiafound.org; 415.743.3340
In Washington & New York: Katherine Brown
kbrown@asiafound.org; 202.271.1751

## د آسیا بنسټ د افغانانو د ۲۰۰۸ زیږدیز کال عامه نظریات خپروي

**دغه پراخه او سراسري سروې چه د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې تر سره کیږی د امنیت، بیاودانولو او اداري په هکله عامه نظریات بیانوي**

**کابل او سان فرانسیسکو- د ۲۰۰۸ کال د اکتوبر ۲۸** – نن د آسیا بنسټ په افغانستان کې د خلکو د عمومي نظرغوښتنې اړوند خپله وروستۍ سروې نشر ته وسپارله، کوم چی تر ټولو هغه لویه نمونه اخیستنه چې تر اوسه د افغانستان په ۳۴ ولایاتو کې په یو واري توګه تر سره شوې دي، تر پوښښ لاندی راولی. " د افغانی وګړو سروی" هغه څلورمه سروی ده چی د آسیا بنسټ په واسطه سرته رسیږی کوم چې پخوا یی د ۲۰۰۴، ۲۰۰۶ او ۲۰۰۷م کلونو کی هم عامه نظر غوښتنی خپری کړی دي. څلور واړه سروې ګاني په یو ځایي توګه، د طالبانو د حکومت نه وروسته په ټول افغانستان کې د هیواد د تګ لوري د ارزونې لپاره د خلکو د نظریو یو دقیق او اوږد مهاله مقیاس جوړوي.
تاسو کولای شیٔ د افغانستان 200۸ م کال بشپړه سروې د www.asiafoundation.org له وېبپاڼې څخه تر لاسه کړیء.

د افغانی وګړو لپاره د پخو او دوامداره راس ته راوړنو او خدمتونو او همدا رازد بیاودانولو په هځو کی د بریالیتوب د نښو نښانو سره سره د تېر کال په دوران کې د فغانستان حالت په زیاتیدونکي توګه سخت شوی. په خاصه توګه د عامو خلکو اوملی اردو بی ساری مرګ ژوبلې، په ځورونکی توګه د خوړو کمښت او انفلاسیون او بی روزګاري د تېرو څو میاشتو ویاندویي کوي. په دی هکله د ۲۰۰۸ م کال سروې د بیاودانولو، امنیت، حاکمیت او د کوکنارو د کښت او همداراز د حکومت او نا دولتي موسسو په اړه د خلکو د انګیرنو، د اسلام د ونډې او ټولنه کی د ښځو د رول او په ټولنه کی د مطبوعاتو د اغیزو په هکله د افغانانو مفکورې را ټولې کړی.

د دغي سروی ساحوي کار د ۲۰۰۸ م کال د جون له دولسمی نه د جولای د میاشتی تر دویمی پوری تر سره شو، په داسی ډول چی د افغانستان د ۳۴ ولایاتو د کلیوالی او ښاري سیمو څخه ۶۵۹۳ پرته له کوم مخکیني ترتیب څخه نمونوی مرکې د بیلابیلو ټولنیزو، اقتصادی او قومی ټولنو له ښځو او نارینه وو سره چی د 18 کلونو او یا هم تر هغه زیات عمر یی درلود، ترسره شوی.
نوموړی سروي د افغانستان د ۲۰۰۸ م کال د ملی عمومي وضعی په پیداونو باندی پیلیږی او ددی ښکارندوی ده چی په سلو کی ۳۸ افغانان په دی نظر دی چی هیواد په سم لوری روان دی، (چی دغه رقم په ۲۰۰۷ م کال کې ۴۲ فیصده، په

۲۰۰۶م کال کی ۴۴ فیصده  او په ۲۰۰۴ م کال کې ۶۴ فیصده وو)، په سلو کی ۳۲ کسان احساس کوی چی هیواد په ناسم لوری روان دي (چی دغه رقم په ۲۰۰۷م کال ۲۴ فیصده، په ۲۰۰۶ م کال کی ۲۱ فیصده او په ۲۰۰۴ کی 11 فیصده وو)، پاتی ۲۳ فیصده کسان په دی اړه ګډ نظر لری (چی په ۲۰۰۷م کال کی ۲۵ فیصده، په ۲۰۰۶ کال کې ۲۹ فیصده او په ۲۰۰۴ م کال کی ۸ فیصده وو). د یادولو وړ ده چی د ۲۰۰۴م کال د معلوماتو د نمونی اندازه ۸۰۴ کسه وه، ولی د ۲۰۰۶م کال را پدیخوا دغه نمونونی اندازه له ۶۰۰۰ افغانانو نه هم زیاته وه.

د ۲۰۰۸ م کال نظر غوښتنه چی د امریکی د متحده ایالاتو د نړیوالی پرمختیایي اداری له خوا تمویل شوی او د آسیا بنسټ له خوا طرح، اداره او نشر ته برابره شوی ده د هغو شخصی مرکو چی د افغانانو د ټولنیز اقتصاد او نظریو د پلټنی د اداری (ACSOR) د ۵۴۳ ښځینه او نارینه کارکونکو لخوا ترسره شوی. ورته سروي ګاني به په ۲۰۰۹،۲۰۱۰ او ۲۰۱۱ کلونو کی ترسره شي.

**په افغانستان کي د آسیا  بنسټ په هکله**

د ۲۰۰۲ م  کال د فبروری په میاشت کي د ایشیا فونډیشین د کابل دفتر ددي لپاره بیا پرانستل شو تر څو  هغه پروګرامونه په لار واچوي چي د طالبانو د حکومت نه وروسته د افغانستان د سیاسي، ټولنیز، اقتصادي او پوهنیز پرمختګ لپاره ضروري دی. د ۲۰۰۲ کال نه را په دیخوا، د آسیا  بنسټ د کابل دفتر له افغانانو سره د موقت حکومت په جوړونه، د اساسي قانون په جوړونه، د ټول هیواد د رایي ورکوونکو په نوم لیکنه، مدني پوهاوي، د رسنیو د څارني او د ۲۰۰۴م کال د جمهوري ریاست او د ۲۰۰۵م کال د ملي شورا او ولایتي شوراګانو د ټولټاکنو په پلانولو کي د تخنیکي مرستو په ترڅ کي، له افغانانو سره د هغوي د هیواد د بیاودانولو په هڅو کي مرستي کړي. له دغو ټولټاکنو نه وروسته، ایشیا فونډیشن د حکومت د اجرایي برخي له مرکزي مهمو بنسټونو سره  اوږد مهاله او ارزښتناکه مرستي کوي.  د ایشیا فونډیشن نور پروګرامونه د ښځو او انجونو لپاره د پوهني او روزني، د لوړو زده کړو د پرمختګ او د نړیوالو اړیکو د پیاوړتیا لپاره د افکارو د تبادلي  په پراختیا متمرکزي دي.

**د آسیا  بنسټ په هکله**

ایشیا فونډیشن یو نا دولتی او غیر انتفاعی اداره ده چی د آرامه او سوکاله، پیاوړی، د عدل نه ډکی آسیا او اوقیانوسیی پراختیا ته ژمنه ده. ایشیا فونډیشن په آسیا کی د قوانینو او حاکمیت د څواکمنولو،، اقتصادی اصلاحاتو او پراختیا، د ښځو د څواکمنولو او نړی واله اړیکو په برخه کی مرستی کوی. د ۵۰ کلنی تجربی په رڼا کی، ایشیا فونډیشن په آسیا کی د دولتی او شخصی همکارانو سره د رهبری یا مشری، د تاسیساتو په جوړونه، د افکارو او وړتیاوو د تبادلی او د کړنلارو په هکله د پلټنو په برخو کی په ګډه کار کوی.

د آسیا  بنسټ په ټوله آسیا کی  ۱۷ سیمه ییز دفترونه لری چی یو دفتر یي په واشنګټن ډی- سی او مرکزی دفتر یی د امریکا په سانفرانسسکو کی دی د کومو  له لاری چی د آسیا  بنسټ د سیمی او هیوادونو په کچه د چارو پالنه کوی. د آسیا  بنسټ په ۲۰۰۶ کال کی له ۵۳ میلیونو امریکایی ډالرو نه زیاته بسپنه د پروګرامونو په برخه کی  برابره کړی او همدارنګه یی د دېرش میلیونه امریکایی ډالرو په ارزښت ۹۲۰۰۰۰ کتابونه او درسی مواد په ټوله آسیا کی ویشلی دی.

مهربانی وکړی د لا زیاتو معلوماتو لپاره د www.asiafoundation.org وېبپاڼی ته مراجعه وکړی.